مطبوعاتي اعلامیه
23/01/2025

# د جزا نړیوالي محکمي له لوري په افغانستان کي د بشریت ضد جنایت په تور د تورنو کسانو د نیولو غوښتني په اړه رسنیزه اعلامیه

انن پنجشـنبه د جنوری ۲۳مه ورځ د جزا نړیوالي محکمي په افغانسـتان کي د جنسـیتی تعذیب چي د بشریت ضد جنایت حسـابیږي په تور هیبت الله آخندزاده د طالبانو رهبر او عبدالحکیم حقانی د دي ډلي د ستري محکمه د رییس د نیولو غوښـتنه کړي. دا غوښـتنه به د قضایي بورډ له خوا چي د محکمې د مقدماتي څانګې له دریو قاضیانو څخه جوړه وي وڅیړل شي او که تصویب شي، ټول غړي هیوادونه دنده لري چـي د دغو تورنو کسـانو په نیولو کې اقـدام او همکاري وکړي. د غړو هیوادونو له خوا د نیولو اقدام هغـه وخت تر سره کیږي کله چي تورن کسان دغو هیوادونو ته سفر وکړي.

د یادو کسـانو محاکمه او سـزا ښـایي کلونه وخت ونیسي؛ د جزا نړیوالي محکمي حکم د تورنو لپاره په داسي حال کي چي په تېرو دریو کلنو کي ښـځو په افغانسـتان کي د ځپلو شـدید ترین ډول تجربه کړي دي او د دغي مودي به جریان کي په پراخه او سیستماتیکه توګه د خپلو بشري حقونو او آزادیو لکه د زده کړو او تحصیل حق د کار او آزاد تګ راتګ حق څخه محروم شـوي دي صادر کړي دي، دا په دغه هیواد کي د جنایت د عاملانو او مسؤلینو د ځواب ورکوني لپاره ډېر مهم ګام دي.

رواداري د جزا نړیوالي محکمي د دغه اقدام د هرکلي ترڅنګ، هغه د عدالت د ټینګښـت او په افغانسـتان کي د جنایتونو د تکرار د مخنیوي لپـاره اغیزمـن اقدام ګڼي او همدارنګه په دغه هیواد کي د نړیوالو جرایمو اړوند ټولو دوسـیو ته په رسـیدګی باندي ټینګار کوي. ځکه چي د ۲۰۰۳م کال څخه له کومي چي افغانسـتان د روم د اساسـنامي سره یو ځای شـوي دي، په افغانسـتان کي په پراخه کچه د بشري حقونو د سرغـړوني مـوارد چي د همدي محکمي په قضایې صلاحیت کي دي تر سره شـوي دي. له همدي امله، موږ هیله مند یو چي د محکمي په اختیـار کـي کافي منابع ورکړل شي، تر څـو د بشري حقونو د سرغړونو له امله د قربانیانو اړوند څېړني او نـورو جرایمو ته هم د تحقیق زمینه برابره شي. موږ همداراز ټینګار کوو چي په افغانسـتان کې د مجرمینو او د جرمونو مسـؤلینو ته د عدالت د اغیزمن تطبیق او حسـاب ورکولو لپاره د ټولو نړیوالو قضایي میکانیزمونو لکه د عدالت نړیوالي محکمي، نړیوال قضایې صلاحیت او د ملګرو ملتونو سـازمان نورو میکانیزمونو ته په یو وخت کي د پلي کیدو ته اړتیا ده.

رواداري په تېرو دریو نیم کلنو کي د عدالت غوښتني او د بشري حقونو د نقض د پیښو د څارني په ځانګړي توګه په افغانستان کي د بشریت پـه ضـد جنایتونو اړوند د اطلاعاتو او شـواهدو راټولولو له لاري د دغه ګډو هڅو برخه وه او همدارنګـه د جزا نړیوالي محکمي سره د اړتیا وړ شواهدو او مدارکو راټولولو کي مرسته کړي او ادامه ورکوي. رواداري همدارنګه د قربانیانو او شاهدانو سره د بشري حقونو د سرغړوني دوسیو ته د رسیدګی نړیوالو قضایې میکانیزمونو په ځانګړي توګه د جزا نړیوالي محکمي د کار د ډول او لارو چارو په اړه د عامه پوهاوي په ډیروالي کي خپلو هڅو ته ادامه ورکوي.